FOR IMMEDIATE RELEASE
June 03, 2012
Contact: Adisa Busuladzic
Phone: +93 (0) 702636328
Email: ABusuladzic@usaid.gov

رسنیزه خبرتیا

د افغانستان په اسلامي جمهوري دولت کې د ښځو لپاره د کاري فرصت زیاتوالی

کابل، افغانستان | د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتې ۳ مه نېټه -- د امریکې نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) او د ښځو د چارو وزارت نن د"ښځې په دولت کې" تر نامه لاندې د انټرنشیپ پروګرام ته په رسمي توګه پراختیا ورکړه. دغه پروګرام په کابل او څو نورو ولایتونو کې ښځو ته دا موقع ورکوي چې د افغانستان په اسلامي جمهوري دولت کې کار وکړي او کاري تجربه تر لاسه کړي. د USAID لخوا په لاره اچول شوی د انټرنشیپ اصلي پروګرام د وظیفې د ټاکلو کچه ۷۹ فیصده زیاتوي.

د USAID رئیس ښاغلي کن یاماشیتا او د ښځو د چارو وزیرې آغلې ډاکټر حسن بانو غضنفر د همکارۍ یو سند لاسلیک کړ چې د ښځو د چارو په وزارت کې د انټرنشیپ ۱۰۰ پوستونه را منځ ته کوي. دغه فرصتونه به د انټرشیپ/ د کار د زده کړې دورې ته د داسې یوې طریقې په توګه وده ورکړي چې ښځو ته د دندو په هکله روزنه او په دولتي سکتور کې د ګمارنې فرصتونه زیات کړي.

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ۳۳۳۰۰۰ کارکوونکو له جملې څخه یواځې ۱۸ سلنه یې ښځې دي. په دولتي سکتور کې د ښځو د وندې زیاتوالی به د بیارغونې پر هڅو مثبته اغیزه وکړي او په ټولیزه توګه به د افغانستان د پرمختیا لپاره حیاتي ارزښت ولري. ددې پروګرام اصلي موخه داده څو د انټرنشیپ زده کوونکي په مسلکي کار کوونکو بدل کړي.

د (USAID) رئیس آغلي کن یاما شیتا پدې غوندې کې وویل" ښځې باید د ټولنې د فعالو غړو په توګه د خپلو خاوندانو، پلرونو او ورونو سره اوږه په اوږه کار وکړي ترڅو خپل اعظمي قدرت ته ورسیږي. د جندر دغه نوښتیز پروګرام د نورو وزارتونو لپاره داسې یوه بیلګه ده چې دوی کولای شي تعقیب یې کړي."

پدې غونډې کې د ښځو چارو وزیرې آغلې غضنفر وویل "نن ورځ مونږ امیدواره کوي ځکه چې مونږ ګورو چې دغه با استعداده ځواني ښځې با ارزښته کاري تجربې ترلاسه کوي او خپله مسلکي وړتیا زیاتوي. زمونږ د هیواد پرمختګ په دوی پورې اړه لري؛ دوی د افغانستان راتلونکې مشراني او وزیراني دي."

په دولت کې د ښځو پروګرام د جوړېدو موخه چې د (USAID) لخوا په لاره اچول شویدی، ښځینه زده کوونکو(INTERNS) ته یو بیساری فرصت په واک کې ورکړي تر څو د افغان حکومت سره کار و کړي او کاري تجربه ترلاسه کړي او بلاخره د هیواد په بیارغونه او پرمختګ کې ونډه واخلي.

# # #

د امریکا د نړیوالې پرمختیایي اداري د پروګرامونو په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره *http://afghanistan.usaid.gov* ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ.

د امریکا ولس د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) له لارې د نړدې پنځوسو کلونو لپاره د نړۍ په کچه اقتصادي او بشري مرستې ترسره کړېدي.

USAID on Facebook | USAID on Twitter | USAID on YouTube | USAID on Flickr